مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۱۱/۰۱

# غـزل

د کار سړی راله په دار خپژوي
پردي غلام تر اقتدار رسوي

کډې به چېرې وړي بې وزله مرغی
چې چنارونه وار په وار سوزوي

د مینې ګل یې د منګولو غورځي
راته د ګلو مینځ کښې خار پټوي

وایي په خوله هاغه ده سوله راځي
تر څو به مونږ به دغه چار غولوي

یه پسرلیه! افغان دومره خوار شو
ځان په ډالر او په کلدار خرڅوي

مصطفی پسرلی
30/10/2019


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ